عمومي اسامبله
امنیت شورا

خپریدل: عمومي
۶ سپتمبر ۲۰۱۳
اصل: انګلیسی

**عمومي اسامبله**
**اوه شپیتمه ناسته**
د اجنډا ۳۸ ماده
**د افغانستان وضعیت**

**د امنیت شورا**
**شپږ اتیایم کال**

## د افغانستان وضعیت او پر نړیواله سوله او امنیت یې اغیزې

## د عمومي منشي راپور

### اول. پیژندنه

۱. اوسنی راپور د عمومي اسامبلې د ۶۷/۱۶ پریکړه لیک او د امنیت شورا د ۲۰۹۶ (۲۰۱۳) پریکړه لیک پر بنسټ، په کومو کې چې له ما غوښتل شوي وو، چې په هرو دریو میاشتو کې په افغانستان کې د پرمختګونو په اړه راپور ورکړم، وړاندې کیږي.

۲. زما د ۲۰۱۳ کال د جون د ۱۳ نېټې (A/67/889-S/2013/350) د راپور د خپریدو راهیسې، دغه راپور د پام وړ بشري، پراختیایي او بشري حقونو د هڅو په شمول، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي. راپور همدا راز د افغانستان په تړاو د کلیدي سیاسي او امنیتي پرمختګونو او د سیمه ییزو او نړیوالو پیښو لنډیز بیانوي.

### دوهم. اړوند پرمختګونه

#### الف. سیاسي انکشافات

۳. در راپور ورکولو دوره که څه هم د سولې او پخلاینې په ډګر کې د خوځښت په اړه د خنډو سره مخ شوي وو، خو د ۲۰۱۴ کال در ټولټاکنو د تیاری په درشل کې د مهمو مثبتو حرکتونو شاهد وو. زما معاون جان ایلیاسن د ۲۰۱۳ کال د جون د ۲۸ د جولای تر ۲ نېټې پورې د کابل او قندهار څخه لیدنې تر سره کړې، چیرته چې دی د حکومت، سیاسي برخوالو، مدني ټولنو او د ښځو د حقونو د فعالینو په ګډون، سره ناستې تر سره کړې. د جولای د میاشتې په ۳ نېټه، د توکیو متقابل حسابورکونې د چوکاټ د هوکړه لیک څخه یو کال وروسته (A/66/867-S/2012/532 دویمه ضمیمه وګورئ) په کابل کې د سترو چارواکو یوه غونډه د نړیوالې ټولنې او د افغانستان د حکومت استازیو سره راټول کړې وو تر څو د ژمنو وضعیت او د مخ په وړاندې هڅو باندی لا زیات تمرکز تحلیل کړي. د لېږد د پروسې سره چې په راتلونکې کال کې پیلیږي، وضعیت د بې باوری سره مل خو په عمومي ډول هڅې د پلان سره سم مخ په وړاندې روان وو.

۴. د جون په ۱۸ نېټه طالبانو او د قطر د بهرنیو چارو د وزارت استازو سره په دوحه کې د افغانستان د اسلامې امارت د سیاسې دفتر د خلاصولو اعلان وکړ. طالبانو په یوه مطبوعاتې اعلامیه کې وویل چې دغه دفتر د "سیاسې حل لارې د ملاتړ" د

افغانستان د راتلونکې او دا چې دغه تحریک به اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاوره د نورو هیوادونو د امنیت د ګواښنې لپاره وکارول شي. خو د طالبانو له خوا د پرانېستلو پر مهال د طالبانو د پخوانۍ رژیم د نوم او نښان کارول، د افغانستان د حکومت او یو زیات شمېر ټولنو پیاړوي منفي غبرګون راوپارول. د افغانستان حکومت د اوړدي مودي را پدې خوا اصرار درلود چې هر هغه دفتر چې د طالبانو د با صلاحیتو استازو له آدرس څخه د سولې د عالي شورا سره د خبرو د ترسره کولو لپاره په بهر کې پرانېستل کېږی د دوي د مشروع حکومت د مفهوم په معنی به نوي. د طالبانو په اعلامیه کې نورې سرخوږي هم شتون درلود چې د دربیمو هیوادونو او نړیوالو سازمانونو سره د اړیکو په رامنځته کولو باندې اصرار درلود او د افغان حکومت د چارواکو سره وروسته او پر یوه نامعینه نېټه د خبرو پیل کولو ښکارندوي وو. د جون په ۱۹ نېټه د افغانستان حکومت اعلان وکړ چې د خبرو اترو پروسه به وځنډول شي که چیرې داسې ضمانت شتون ونلري چې د ډیالوګ پروسه به په بشپړ ډول د افغانانو تر مشري لاندې وي. د جون په ۲۴ نېټه د ملي امنیت شورا ته اطلاع وکړ شو چې د اعتراض وړ علامت او بیرغ د دوحې د چارواکو له خوا لري کړای شو. له دې وروسته طالبانو اعلان وکړ چې سیاسي دفتر په موقت ډول وتړل شو. د دغه دفتر راتلونکې وروسته له هغه ناڅرګند پاتې شو چې د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ویاند، د اګست په ۲ نېټه وویل چې د افغانستان حکومت د طالبانو د استازو سره په سعودی عرب او یا ترکیه کې د ډیالوګ د پیل کولو لپاره تیار دی.

۵. د افغانستان حکومت د سولې او د بیا ادغام د پروګرام ګډ سکرتریت راپور ورکړ چې د اګست تر ۲۴ نېټې پوري ۷۲۲۰ پخوانۍ بلواګر د دغه پروګرام سره یو ځای شوي چې په لړ کې ۱۶۰ پروژې د اړوندو وزارتونو او ۱۶۴ واړه د بلاعوض مرستو بستې بشپړ شوي او یا جریان لري. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوي پلاوي (یوناما) په جلا ډول سره د سولې په اړوند د افغان خلکو د ډیالوګ په ډګر کې خپل ملاتړ ته دوام ورکړې. د اپریل او د جون د میاشتو په موده کې د ټولټال ۲۰۰ پلان شوو له جملې څخه ۱۰۰ د تمرکز د ډلو بحثونه په ټول هیواد کې په لاره اچول شوي چې په هغه کې ۱۷۳۳ تنه افغانان، د ۴۲۹ تنو ښځو په ګډون، برخه اخیستې وو. د دغه نوښت د دوهم پړاو موخه دا دی چې د ولایت په کچه د سولې لپاره لار نخښه طرحه کړی چې په ترڅ کې به د ګډونکوونکو توصیې واخیستل شي. دوامداره او ژور معافیت، پراخ فساد او د صلاحیت څه ناوړه ګټه اخیستنه، بیکاري، او په ځینو قضیو کې نامتوازن پراختیا د بلواګرو د نارضایتې د لاملونو په ډول را په ګوته شوي. د افغان سولې او بیا ادغام پروګرام په اړوند د اندیښنې ګنګوسې را پورته شوي چې په هغه کې د حساب ورکونې او تزکیې نشتون تر سترګو شوي.

۶. د دوحې د پېښو په غبرګون، ولسمشر حامد کرزی د جون په ۱۹ نېټه د امریکې د متحده ایالاتو سره د دوه اړخیزې امنیتي تړون په اړوند د خبرو د ترسره کولو د ستري کچې ډله تعلیق کړ. یو زیات شمېر افغان سیاسي برخوال د پارلمان او د اپوزیسیون د مشرانو په ګډون د دې پریکړې په خلاف اعتراض او استدلال وکړل چې کیدای شې دغه کار په دغسې یو اساس وضعیت کې د نړیوالې ټولنې د بشپړ وتلو لپاره زمینه برابره کړي. د جولاي په ۱۴ نېټه د ولسمشر ویاند د هغو پلانونو پخلی وکړ چې د امریکې سره د تړون په اړوند ملي مشورتي جرګه دایروي. د سیاسي ګوندونو د همکاری شورا او د افغانستان ائتلاف دا ډول جرګه رد کړل هغه یې د هر ډول حقوقي صلاحیت فاقد، د اساسي قانون سره په ټکر کې او په سیاسي ډول طرحه شوي وګڼل. داسې اندېښنې هم را برسېره شول چې کیدای شې دغه جرګه د نورو موخو، لکه د ۲۰۱۴ کال د ټولټاکنو د ځنډولو او یا په اساسي قانون کې د بدولون په ګډون، لپاره وکارول شي. جنرال مارټین ډمپسي د امریکې د متحده ایالاتو د ځواکونو د سترو درسیزانو ګډ رئیس چې د جولاي په ۲۲ نېټه د کابل څخه لیدنه وکړه، هیله وښودله چې د تړون کنګل اوبه او د اکتوبر تر پایه پوری نهایي شي. د اګست په ۲۱ نېټه د افغانستان د امنیت شورا سلاکار او د امنیتي لیرد د کمیسیون مشر یو ځای د بهرنیو چارو وزیر سره موظف شول چې د ستراتیژیک تړون نوي پړاو مشری تر سره کړي. ولسمشر کرزی د اګست په ۲۴ نېټه وویل چې که چېرې اوسنۍ حکومت د امریکې سره پر تړون باندې سلا نشول، نو امریکا مجبور دی چې د راتلونکې حکومت سره خبرې اترې وکړي.

۷. د ۲۰۱۴ کال د ولسمشریزې او ولایتي شوراګانو د ټاکنو څخه مخکې کلیدی قانون نافذ شو. د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون جوړښت او مسولیتونه او د ټاکنو په اړوند د شکایتونو خپلواک کمیسیون (ساختاری قانون) او د ټولټاکنو قانون د ولسمشر کرزی له خوا، په ترتیب سره، د جولای په ۱۷ او ۲۰ نېټه توشیح او په زغرده د ملی شورا له خوا هم تایید شول. نوي قوانین، د ټاکنو په اړوند د شکایتونو خپلواک کمیسیون د ټاکنو په اړوند د نانددریو د رسیدګۍ او حل لپاره د دایمي نهاد په ډول ومنل. د منفردي او د انتقال نه وړ د رایو ورکولو سیستم، د ټولو کاندیدانو او د دایمی نهادونو د استازو لپاره د ولایتي په ګڼ شمیرو سیالیو کې، د یو منفرد کس په حیث، هم په خپل حال پاتې شو. د یو توده بحث څخه وروسته د کوچیانو لپاره د لسو څوکیو سهمیه په خپل حال پاتې شو، خو دا ځل به د یو ملی ټاکنو د مرکز پر ځاي پر اووه حوزوي زونونه باندې وویشل شي. په ولایتي شوراګانو کې د ښځو د استازو لپاره د دوي ۲۵ سلنه سهمیه را ټېټه او ۲۰ سلنې ته کمه شوه.

۸. د ټولټاکنو د دوو مدیریتي نهادونو لپاره د کمشنرانو د انتصاب مشورتي پروسه په نوي ساختاری قانون کې په نظر کې نیولې شوي او په چټکۍ سره پلې شو. د جولاي په ۲۸ نېټه د ټاکنو کمېټه چې د ملي شورا د دواړو خونو د رئیسانو، د اساسي قانون د پلي کولو د څارنې خپلواک کمیسیون او د افغانستان د بشري حقوقونو د خپلواک کمیسیون رئیسانو د قاضی القضات سره یو ځای د ۲۷ نوماندانو نوم لړ ولسمشر ته وړاندي کړ چې د ۲۰۰ غوښتنلیک ورکوونکو له جمعې څخه شارت لست شوي وو. په تاسف سره د ټولټاکنو په اړوند د مدني ټولنو نهادونه و نشواي کړاي هوکړي ته ورسیږي، او څرنګه چې په نوي قانون کې تصریح شوي، د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون د کمشنرانو د انتصاب په پروسه کې خپل رسمې استازی معرفي کړي. د جولاي په ۳۰ نېټه ولسمشر نهايي ۹ تنه انتصاب شوي غړي اعلان او هغوي صبا د لوړي مراسم تر سره کړل. دغه نوی غړي د افغانستان د سیمو او بیلابیلو قومو څخه استازیتوب کوي چې د ۹ تنو څخه دري تنې ښځې او دوه تنه پخوانې کمشنران دي. د اګست په ۳ نېټه احمد یوسف نورستانې د هرات پخوانې والې د ټولټاکنو نوي نومول شوي او ټاکل شوي رئیس په توګه او د اګست په ۵ نېټه ولسمشر د ټولټاکنو د عمومې رئیس په توګه د هغه بیا ګمارل تایید کړ. د اګست د میاشتې په ۲۴ نېټه د ټولټاکنو د شکایاتو د خپلواک کمیسیون د کمشنرانو د ټاکنو پروسه دوام درلود.

۹. د ټولټاکنو لپاره تخنیکې تیارې ګانې د پلان سره سم روان دي. د جولاي په ۲ نېټه د رایو ورکوونکو د ثبت دوهم پړاو د ولسوالې ګانو په کچه پیل شو. دغه پروسه چې د رایو ورکولو د نویو کسانو او بهرته راستنیدونکو لپاره ځانګړي شوی، د اګست تر ۲۱ نېټې پوري ۴۳۵۷۷۵ نوي رایورکونکو ته کارتونه صادر کړلي چې پکې ۹۶۹۲۴ تنه ښځې دي. تر دې مهاله د پروسې په اړوند په نیغه ځواکمن امنېتي پېښې شتون ندرلود خو څلورو ولسوالیګانو ته د امنیت په لحاظ د لاسرسي نه وړ تثبیت او د پنځو نورو ولسوالیګانو مرکزونه د کارکوونکو او لوژستیکي موضوعات پر بنسټ لا خلاص شوي ندې. د نوي الکترونیکي تذکرو صادرول، چې کیداي شي د رایو ورکوونکو د هویت په ډول وکارول شي، هم بند دی ځکه چې د ثبت او د نفوس د احوالو د قانون پروسه بشپړ شوي ندی. د جولاي په ۳۱ نېټه کمیسیون د ۲۰۱۴ کال د ټولټاکنو لپاره خپل عملیاتي پلان تایید او د اګست په ۲۷ نېټه د ملګرو ملتونو د ټولټاکنو د ملاتړ پروژه - ایلیکت دوهم – (د راتلونکې لپاره د حقوق او ټولټاکنو ځواکمنتیا، دوهم پړاو) تایید کړ. د کمیسیون او مالی وزارت تر منځ خبري دوام لري تر څو د ټولټاکنو د تمویل لپاره د ۱۲۹ میلیونو امریکایې ډالرو د تادیې زیاتره برخه دي د ملي بودجې د پروسې له لاري ډاډمن شي.

۱۰. د ټاکنو د تر سره کولو لپاره امنیت د اصلې اندیښنې سرچینه وو. د جولاي په ۲۹ د کورنیو چارو وزارت د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون ته د امنیتي ګواښ لومړنې تحلیل پاڼه وسپارل چې د کمیسیون له خوا وړاندیز شوي ۶۸۴۵ د رایو مرکزونو له جملې څخه، ۶۵۸۶ در رایو مرکزونه (۳۴۳۵ خوندې د رایو مرکزونه، ۹۴۵ د ټیټې کچې ګواښ د رایو مرکزونه، ۱۰۷۴ د منځنې کچې ګواښ د رایو مرکزونه او ۱۱۳۲ د لوړې کچې ګواښ د رایو مرکزونه) تحلیل شوي دي. د ماشومانو د ساتنې د اندیښنو په پام کې لرلو سره، د ټاکنو د کمیسیون رئیس موافقه وکړه چې د افغان امنیتي ځواکونو سره د بالقوه د رایو مرکزونو د رواني امنیتي تحلیل په چوکاټ کې، د ښوونځي د شاملولو په صورت کې، پر ښوونځي باندې د اغېزې تحلیل باندې هم بحث وکړي. د اګست په ۱۳ نېټه فضل احمد معنوي د تاکنو د کمیسیون پخوانې رئیس رسنیو ته وویل چې زما په آند امنیتي چارواکې په خپل تحلیل کې واقع بینه ندې او د ټولټاکنو لپاره تیاري غټ ښودل شوي دی. یوه ورځ وروسته احمد یوسف نورستانې د

ټاکنو نوي رئیس په ځواب کې وویل چې ننګونې ډېر زیات دي او دی باور لري چې امنیتي ځواکونه دا توان لري چې دغو ننګونو ته رسیدګي وکړي.

۱۱. په افغان سیاسي برخه والو کې سیاسي فعالیتونه د نوماندانو د نوم لیکنې د بهیر څخه مخکې په خوځښت راغی چې د سپتمبر په ۱۶ پیل او د اکتوبر په ۶ نېټه پای ته رسیږي. دننه په ګوند کې او همدارنګه د یو ګوند او بل ګوند سره ائتلافونه سَیال پاتې وو، او د یو پراخ بنسټه ائتلاف د جوړولو لپاره څو اړخیزې متداخلې هڅې روان وو. اسلامي جمعیت چې زیاتره د تاجک ملیت ګوند دی، خپل د ګوند د کنګرې د دایرولو پلان یو خوا ته پرېښود او د جون په ۳۰ نېټه د ګوند په دننه کې د بدلون راویستلو لپاره، د ګوند موقت مشر، صلاح الدین رباني، د دغه ګوند د سرپرست د مشر په ډول لقب یې بدلون و موند او د بلخ والي عطا محمد نور د دغه ګوند د اجرایي رئیس په ډول ونومول شو. د اګست په ۱۶ نېټه د حزب اسلامی افغانستان، چې په تاریخي ډول پښتانه پکې برلاسې دي، ویاند او د حزب وحدت، چې زیاتره هزارګان پکې برلاسې دي، مشر چې د ولسمشر مرستیال، کریم خلیلی له خوا رهبری کیږي، رسنیو ته وویل چې د انتخاباتي ائتلاف د جوړولو پلان لري. د سیاسي ګوندونو د همکاری شورا او د افغانستان ائتلافونه د پر وخت ټاکنو د اړتیا په اړه خپل اصرار باندي تاکید کول. د افغانستان په سهېلې سیمه کې یو شمېر غونډې تر سره شوي چې د هغه په ترڅ کې، د امنیتي وضعیت په دلیل، د ټولټاکنو د ځنډولو او د ټولټاکنو پر ځای د یو بل حل لارې او یا میکانیزم غوښتونکې وو. د اګست په ۱ نېټه راپور وکول شوي چې د هرات والي ویلي چې په ۲۰۱۴ کال کې د پوځې ځواکونو د وتلو په پام کې نیولو سره، د ټولټاکنو لپاره اوس وخت مناسب ندی او د ولسمشر د کار موده دې وغځول شي. د کوچنې اختر پر مهال د طالبانو یوه اعلامیه، چې ادعا شوي چې د ملا محمد عمر له خوا دی، راتلونکې ټولټاکنې یې په استهزا سره د "وخت ضایع کول" وګڼل او په تېرو ټولټاکنو کې د فساد او درغلې ادعاګانې روښانه کړل. د راپورونو پر بنسټ طالبانو یو کمپاین پلان کړي تر څو په ټولټاکنو کې د خلکو ګډون کمرنګه کړي.

۱۲. د جولاي په ۲۲ نېټه د کورنیو چارو وزیر غلام مجتبی پتنګ د افغانستان د شورا د ولسي جرګې څخه د اعتماد د ګټلو رایه تر لاسه نکړه ځکه چې د ولسي جرګې اکثریت غړې د امنیتي وضعیت په اړوند د دې جرګې د غړو د پوښتنو په ځواب کې د دوې قناعت تر لاسه نکړل. له هغې وروسته ولسمشر کرزي د سترې محکمې څخه د رایې د حقوقي بنسټ په اړوند د نظر غوښتونکې شو او شاغلې پتنګ یې د سرپرست وزیر په ډول ونومول.

۱۳. د ولایتونو په والیانو کې هم یو شمېر بدلونونه تر سره شول. د جولاي په ۱ نېټه د کنړ والي، هرات ولایت ته تبدیل شو ځکه چې دغه ولایت د ځایي زوراکو تر منځ د شدیدې سیالۍ په ډګر تبدیل شوي وو. په دغه ورځ کې د فراه ولایت والي د سرحداتو او قومونو د چارو وزارت د سرپرست وزیر په ډول انتصاب شو. د تخار په ولایت کې د ازبکانو او تاجکانو د تنظیمونو تر منځ ترینګلتیا په ستر لاریونو باندې تبدیل شو چې د جولای په ۱۵ نېټه کې د دغه ولایت والی هم بدل شو. دغه کار د ازبک د جنبش ملی اسلامی او د حزب اسلامی افغانستان د ګوندونو تر منځ د ائتلاف سبب او د حزب جمعیت اسلامی په ضرر تمام شو. د جوزجان په ولایت کې هم د جنبش اسلامی د خپل منځي اختلافات د مظاهرو لامل او په پای کې د جولای په ۲۰ نېټه د دغه ولایت د والي د تبدیلي لامل وګرځید.

**ب: امنیتي انکشافات**

۱۴. که څه هم د دوحې د پېښو د رڼا تر سیوری لاندې راغلې وو خو افغان امنیتي ځواکونو ته د امنیتي مسولیتونو د لېږد آخري پړاو د جون په ۱۸ اعلان شو. د یو ستر بدلون په حیث، دغه کار د منې په موسم کې د افغان امنیتي ځواکونو له خوا په ټول هیواد کې د بشپړ مسولیت په غاړه اخیستل، د دغو نهادونو ورتیا په ګوته کوي. ولسمشر کرزی د نړیوالې ټولنې څخه وغوښتل چې افغان امنیتي ځواکونه باید د سیمې د واقعیتونو پر بنسټ او د د اوس مهال د امنیتي ګواښونو پر بنسټ تجهیز

کړي. جنرال جوزف ډُنورد د ایساف قومندان په یوه وینا کې وویل چې د ۲۰۱۴ کال وروسته ملاتړ او حمایت د تېرو هڅو د پایښت لپاره اړینې دي.

۱۵. د جولای تر ۲۹ نېټې پورې، د افغان ملي اردو پرسونل شمېر (د تعین شوي موخې ۱۸۷۰۰۰ پرسونل) په پرتله ۱۸۳۰۰۰ تنو ته رسېږي او د ۸۰۰۰ ټاکل شوي هدف د هوايي ځواکونو لپاره پرسونل ۶۷۰۰ تنو ته ورسید. له دې جمعې څخه ۶۳۰ تنې ښځینه پرسونل دي چې په کې یوه ښځینه جنراله هم شته او د شپې د عملیات پر مهال د جنسیت د حساس موضوع ته په پام کې لرو سره، ۱۰۰ تنه ښځینه پرسونل په ځانګړي ځواکونو کې په کار بوخت دي. د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق (لوتفا) چې د ملګرو ملتونو له خوا مدیریت کیږي، د جون تر میاشتې پورې، د ۱۵۷۰۰۰ ټاکل شوي هدف له جملې، د ۱۳۹۶۳۱ تنو پولیس ځواک ته ملاتړ برابر کړي چې له وروستنې شمېر له جملې څخه ۱۹۷۴ تنې ښځې دي. هڅې روانې دي چې د افغان امنیتي ځواکونو ظرفیتونه نور هم پیاوړي شي، خو په وروته حال کې د لوژستیکي ظرفیت، هوايي طبي ملاتړ او تخلیه، او همدارنګه د په لاس جوړ تعبیه شوي چاودیدونکي توکي سره د مبارزې تجهیزاتو په ډګرونو کې د پام وړ تشې شتون لري.

۱۶. کله چې افغان امنیتي ځواکونه اکثراً عملیات تر سره کوي د دوي د تلفاتو شمېره چې دوي ته اړول کیږي خورا زیات دی. راپور ورکول شوي چې د ۲۰۱۳ کال په دوهمه ربعه کې ټولټال ۳۵۰۰ تنه افغان امنیتي پرسونل د جګړې پر مهال ژوبل او یا وژل شوي دي. د جولای په ۱ نېټه د کورنیو چارو وزارت راپور ورکړ چې یوازې د جوزا په میاشت کې (د مې د میاشتې د نیمايي څخه پیل او د جون د میاشتې تر نیمايي پورې) ۲۹۹ تنه پولیس افسران وژل شوي چې د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په اندېول ۲۲ سلنه زیاتوالې ښیي. په ملي اردو کې په زیاته کچه د غیر رسمي غیرحاضري لا هم یوه مسله ده. د ځواکونو فرسایش، د ټولو لاملونو په ګډون، په هره میاشت کې ۲،۴ سلنه ده. په ځواکونو کې دننه بریدونه لا هم دوام لري. د مې د میاشتې له ۱۶ نېټې بیا د اګست د میاشتې تر ۱۵ نېټې پورې د قندهار او پکتیا په ولایتونو کې، د نړیوالو ځواکونو پر خلاف دوې پېښې تر سره شوي چې طالبانو د هغه مسولیت منلی او پنځه نورې حملې په هرات، هلمند او کنړ کې تر سره شوي چې په هغه کې یوازې افغان ځواکونه په نښه شوي وو.

۱۷. پدې خاطر چې د افغان ملي پولیس ځواک د یو امنیتي ځواک څخه د قانون د تنفیذ او د ټولنو د خدمت لپاره پولیس باندې تبدیل شي، د جون د میاشتې په ۲۵ نېټه د کورنیو چارو وزیر په افغانستان کې د پولیس مردمی لومړنۍ کنفرانس دایر کړ تر څو پر دې باندې بحث وشي چې په څه ډول د ټولنو او پولیس تر منځ اړیکه پیاوړې شي. د ۲۰۱۴ کال په شروع کې د افغانستان لپاره د عدالت او د قانون د حاکمیت نوي وجهي صندوق پلان شوي دی. د افغانستان لپاره د عدالت او د قانون د حاکمیت وجهي صندوق به د هغه صندوق تر چتر لاندې فعال شي کوم چې د واحد عدالت او د قانون د حاکمیت کړنلاري ملاتړ کوي.

۱۸. د افغان ځايي پولیس د پراخیدو پروګرام په جلا ډول سره دوام لري. د اګست تر ۱۴ نېټې پورې د دغه ځواک شمېر ټولټال ۲۳۵۵۰ تنو ته ورسید. په داسې حال کې چې په لومړي پړاو کې د هیواد شمال او شمال شرقي سېمې تر تمرکز لاندې وو، خو اوس مهال د پراخیدو زیاتر برخه د هیواد سهیل ختیز سېمه ده او د نیمروز، پنجشیر، سمنګان او نورستان ولایتونه هغې سېمې دي چې دغه پروګرام هلته شتون نلري. د ځايي پولیسو ځواک په زیاته پیمانه د حکومت ضد عناصرو بریدونه زغمې. په ورته حال کې او د پر له پسې هڅو با وجود، په پراخه پیمانه د تذکېې او حسابورکونې د میکانیزمونو د نشتون له امله، د افغان ځايي پولیسو پر ضد د شدیدو سرغړونو او ګواښونو د راپورنو په اړوند، اندېښنې دوام لري.

۱۹. ملګري ملتونه په دوامدار توګه د امنیت په اړوند د هغو پېښو چې د ملګي فعالینو د خوندیتوب، خوځښت او کار سره اړیکې لري، په ځانګړي ډول هغه پېښې چې د هغه فعالیتونه او پروګرامونه د ملګرو ملتونو له خوا توظیف شوي اغیزمن کړي، د ارزونې کار ته دوام ورکوي. د روژې د مبارکې میاشتې په دوران کې هم کومه وقفه او یا کموالې تر سترګو نشو. د مې د میاشتې ۱۶ څخه د اګست تر ۱۵ نېټې پورې ۵۹۲۲ پېښې ثبت شوي چې د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله (۵۳۱۷ پېښې)

۱۱ سلنه زیاتوالي ښيي خو په ورته حال کې او د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله (۷۴۸۲ پېښې)۲۱ سلنه کموالې ښيي. د تاکتیک په لحاظ، وسله واله جګړه او په لاس جوړ تعبیه شوي چاودیدونکي توکي د دې پېښو ستره برخه (۴۵۳۴ پېښې) جوړوي. داسې هم لیدل شوي چې د حکومت ضد عناصر خپل بریدونه پر امنیتي پوستو او هغه نظامی مرکزونو باندي مرکوز کړي وو کوم چې د نړیوالو ځواکونو له خوا دوي ته سپارل شوي وو. افغان امنیتي ځواکونه په عمومې ډول سره خپل تمرکز د ښارنو او کلیدي ولسوالیګانو د مرکزونو او ستراتیژیک ترانسپورتي لارو پر تحفظ او ساتلو باندي معطوف کړي وو .

۲۰. د مې د ۱۶ نېټې څخه د اګست تر ۱۵ نېټې پوري په پېښو کې د سهیل، سهیل ختیز او ختیز زونونه د امنیتي پیښو ستره برخه – ۶۹ سلنه – تجربه کړي. د هلمند ولایت د سنګین ولسوالي د هیواد په کچه یو تر ټولو زیاتو سېمو څخه وو چې ډیري شخړي په کې شویدي. د بدخشان ولایت د وردوج ولسوالی وروسته له هغه چې د کال په پیل کې ډیري شخړي پکې وشوې، اوس هم وضعیت هلته د ډاډ وړ ندی. د راپورونو پر اساس د جون په ۲۸ نېټه بهرني جنګیالي د طالبانو پر څنګ د افغان د پولو د ملي پولیسو د ځواکونو پر ضد جنګیدلې دي. ولسوالي ته ځمکني ترانسپورت اغېزمن شوي او څلورو سرحدی ولسوالیو ته لاسرسی هم محدود شوي. ویل شوي چې د هیواد په شمال زون کې په القاعده پوري تړلې د ازبکستان اسلامې تحریک په یو شمېر ولایتونو کې خپل حضور ته پراختیا ورکړي.

۲۱. د حکومت ضد عناصر یو لړ ځانګړي بریدونه په ښارې سیمو کې تر سره کړي. د مې د ۱۶ د اګست تر ۱۵ نېټې پوري ټولټال ۳۳ انتحاری بریدونه، چې په ۲۰۱۲ کې ۷ او ۲۰۱۱ کې ۱۶ بریدونه وو، تر سره شوي چې ۷ بریدونه په پایتخت کې چې ډیره ټېنګه محافظت شوي سېمه ده، تر سره شوي. د جولاې په ۲ نېټه یو په بمونو ډک لاري د نړیوالو ځواکونو د یو قراردادی د لوژستیک مرکز یې په نښه کړ چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د تاسیساتو ستر مرکز ته نږدې وو، او د دې برید له امله ۶ ملکې کسان ووژل شول. داسې باور کېږي چې دغه برید تر نن ورځ پوري په کابل کې تر ټولو ستره چاودنه وه. د اګست په ۳ نېټه د جلال آباد په ښار کې د هندوستان د هیواد پر قونسلګری باندې یو مختلط انتحاری برید تر سره شو چې ټول تلف شوي انسانان امنیتي پرسونل او یا ملکې کسان وو.

۲۲. ملګري ملتونه، د هغه پلې کوونکې همکاران او یا نور د بشري مرستو موسسې په دغه پېښو کې په مستقیم او یا په جانبې ډول تر بریدونو لاندي راغلې دي. د جون په ۲۲ نېټه د فراه ولایت په ښار کې، په کور کې جوړ شوي یو چاودیدونکي بم د ملګرو ملتونو کمپوند یې په نښه کړ خو کوم ځاني او یا مالي تلفات نه درلود. د اګست په ۱ نېټه د یوناما یو موټر تالقان (تخار ولایت) ته روان وو چې په لاره کې د یو غیرقانوني تلاشې پوستې ته د نه دریدلو له امله د سپکو وسلو تر برید لاندي راغي. ملګري ملتونه لا د وخته خبر کړای شوي وو چې په کندز، هرات، ګردیز، خوست، جلال آباد او کابل کې د دوی دوفترونه د ځانګړو امنیتي ګواښونو سره مخ دي او په یو شمېر ځایونو کې کارکوونکې په موقت ډول د دفتر څخه ایستل شویدي.

### ج. سیمه ییزه همکاري

۲۳. د ایران او پاکستان په اسلامې جمهوریتونو کې نوي حکومتونه افغانستان ته دا فرصت په لاس ورکوي چې د خپلو ګاندیو هیوادونو سره پخوانې اړیکې لا پسې ټینګې کړي. ولسمشر کرزی د اګست په ۲۶ او ۲۷ نېټه د اسلام آباد څخه د یو رسمې لېدنې په ترځ کې تاکید وکړ چې د دواړو هیوادونو لومړني اندېښنې د امنیت نشتوالي او د تروریزم مصېبتونه دي. د پاکستان لومړي وزیر نواز شریف هم په افغانستان کې د سولې او پخلاینې د ملاتړ په خاطر د پاکستان ټېنګ او صادقانه هوډ د یادولو پر مهال تاکید وکړ چې د ټولو ګاونډیو هیوادونو تر منځ د همکاریو څخه یو ډک پالیسې ډیره مهمه ده تر څو بهرني اړیکې دوامداره او پر کورني لومړیتوبونو باندي تمرکز وشي. پر یو شمېر اقتصادی او اتصالي پروژوه باندې هم هوکړه وشو.

۲۴. د اګست په ۴ نېټه ولسمشر کرزي په تهران کې د حسن روحانې د ایران د اسلامې جمهوریت د ولسمشر په مراسم کې ګدون وکړ. د کتنې پر مهال د افغانستان د ملي امنیت شورا او د ایران د اسلامې جمهوریت د ملي امنیت عالي شورا تر منځ د تفاهم یادښتونه لاسلیک شول. د متقابل ملي ګټېو په ډګرونو کې د تروریزم، مخدره توکو او پلان شوي جرمونو له امله د امنیتي

ګواښونو په وړاندې د مبارزې په خاطر د اطلاعاتو شريکول شامل وو. د اګست په ۱ نېټه د افغانستان د اسلامي جمهوريت او د عربي متحده اماراتو د بهرنيو چارو وزيرانو د دوامداره ستراتيژيک همکارۍ تړون او د امنيتي همکاريو او د بنديانو د تبادلې تړونونه هم لاسليک کړل.

۲۵. افغانستان د جولاى په ۷ نېټه د انرژۍ د چارټر د تړون ۵۴ غړي هېواد شو. د جولاي په ۹ نېټه د ترکمنستان-افغانستان-پاکستان-هندوستان (تاپي) د غازو د نل ليک په پروژه کې پرمختګ شوي چې په عشق آباد کې د افغانستان او ترکمنستان تر منځ د غازو د پلورلو او پېرلو قراردادونه لاسليک شول. د جولاي په ۱۳ نېټه د قرغزسستان په هيواد کې د شانګهاي د همکاريو د سازمان د غړي هيوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو د شورا ناسته وشوه او خپل ملاتړ يې د افغانستان لپاره د يو خپلواک، سوله ييز، بېطرفه او پرمخ تللي هيواد چې د تروريزم او د مخدره توکو په اړوند د جرمونو څخه خالي وي، يو ځل بيا تاييد کړل. همدارنګه په ناسته کې د افغانستان د وضعيت په ښه کولو کې د نړيوالو هڅو لپاره د ملګرو ملتونو د مرکزي ونډې باندې يو ځل بيا يادونه وشوه. د استانبول د پروسې تر پوښښ لاندې د حوزوی تخنيکې ډلو د اعتماد د رامنځته کولو د تدبيرونو ټولو شپږيزو توافق شويو معيارونو په اړوند غونډې تر سره کړل. کله چې د يوې حوزې متخصصانو او ديپلوماتانو سره يو ځاي کيږي او په شپږو هيوادونو کې پر دې مسايلو باندې بحث کوي، د هغه سياسي ارزښت په خپل ذات کې مهمه پېښه ده.

۲۶. د پاکستان د حکومت په بلنه، ما د اګست د ۱۲ تر ۱۴ نېټې پورې د اسلام آباد څخه ليدنه وکړه او د ولسمشر، لومړي وزير او نورو سترو چارواکو سره ليده کاته وکړه. ما له دې امله چې پاکستان په دوامداره توګه ميلمه پالنه کړې او د افغان مهاجرو د اوسيدو موده تمديد کړې ستاينه وکړه او په مقابل کې د پاکستان نوي حکومت ما ته اطمينان راکړ چې دوي په افغانستان د حکومت سره د همکارۍ هوډ لري. زما ځانګړی استازی په دغه سفر کې زما سره وو او همدارنګه په تهران کې د ولسمشر روحاني د حکومت د پيل په محفل کې زما له خوا هم استازيتوب وکړ. په دغه لړ کې د يو شمېر متقابلو ناستو کې د نوي حکومت غړي اصرار درلود چې دوي غواړي د نړيوالې ټولنې سره، د متقابلو ګټو پر مسالو، د افغانستان په ګډون، رغنده تعامل ولري. زما ځانګړي استازي د يوناما د دندو د يوي برخې په ډول، د مسکو، بېجينګ، نوي ډهلي او دوشنبې په ګډون، په سېمه کې يو لړ نور سفرونه ترسره کړې. په ټولو پايتختونو کې د افغانانو تر مشرۍ لاندې د سولې او پخلاينې او ټولټاکنو د پروسې څخه ملاتړ او همدارنګه د پرمختګ او اقتصادی مسالو په اړوند د متقابل او سيمه ييز پياړوي تعامل په ګوته او روښانه شو. د ننګونو د يو بل سره تړلتيا ځانګړنه او د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته د وضعيت د ملاحظې په تاييد سره، افغانستان اړتيا لري چې، د افراطي ډلو د مخ پرزياتيدونکو تحرکاتو د اغيزې، د افغان امنيتي ځواکونو د پياوړتيا او په زياته پيمانه د مخدره توکو د توليد او قاچاق د ډار او اندېښنې په منځ کې، د ټولټاکنو له لارې د سياسي ځواک بريالي انتقال او د سولې او پخلاينې پر هڅو باندې تمرکز وکړي.

**دريم. بشري حقونه**

۲۷. د جون په ۱۵ نېټه ولسمشر کرزی د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون پينځه تنه نوي غړي انتصاب کړ په داسې حال کې چې د دې موسسې د رئيس سيما سمر په ګډون څلور تنه کمشنران په دغه ۹ کسيزه اداره کې په خپل ځاي پاتې شول. د دې اداری رئيسي، مدني ټولنې، يو شمېر دونران او ملګري ملتونه د دې انتصاب او نويو غړو اهليت په اړوند خپلې اندېښنې اظهار کړل. د جون په ۲۸ نېټه د ملګرو ملتونو د بشري حقونو کميسار په يوه عمومي ويناکې د دې اندېښنو پخلی وکړ. د دې ادارې د سترو چارواکو غونډه د جولاي په ۳ نېټه جوړه او په هغه کې د افغانستان د حکومت ژمنې، د کميسيون د صداقت حفظ کول او ډاډ تر لاسه کول چې کميسيون به د راتلونکې نړيوال امتياز ورکوونې په پروسه کې چې د ملي بشري حقونو د موسسو د نړيوالې همغږۍ د کمېټې له خوا ورکولو کېږی او کولاي شې کميسيون ته د راتلونکې نړيوالې مالي مرستې په زياته پېمانه اغيزمن کړي، خپل لومړنې مقام به بيا ساتې، هم په ګوته شول.

۲۸. په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو ساتنه، د ۲۰۱۳ کال د لومړیو شپږو میاشتو راپور چې د یوناما له خوا د جولای په ۳۱ نېټه خپور شو، ټولټال ۳۸۵۲ ملکي تلفات (۱۳۱۹ تنه وژل شوي او ۲۵۳۳ ژوبل شوي) ثبت او مستند کړي. دغه شمېري د ۲۰۱۲ کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله ۱۴ سلنه د ملکي کسانو په وژونو کې او ۲۸ سلنه د ملکي کسانو د ژوبل شویو په شمېر کې زیاتوالې او په عمومي ډول د ملکي کسانو په تلفاتو کې ۲۳ سلنه زیاتوالې ښيي. د ۲۰۱۳ کال د لومړي شپږو میاشتې د ملکي کسانو د تلفاتو شمېره د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله سره برابر وو خو په ۲۰۱۲ کال کې ثبت شوي شمېري ډېرته زیات شو. د ملکي کسانو د تلفاتو له شمېر څخه ۷۴ سلنه یې د حکومت ضد عناصرو، ۹ سلنه د حکومت پلوه ځواکونو او ۱۲ سلنه د جګړې د خواوو تر منځ په ځمکنې شخړو منسوب شویدي. د حکومت ضد عناصر د په لاس جوړ شوي چاویدونکې توکې بیا هم د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې لومړي او ستر عامل ګڼل کیږي. د خواوو تر منځ ځمکنې شخړې، چې اوس مهال د ملکي کسانو د مګر ژوبلې دوهم لامل ګڼل کیږي، ملکي کسانو ته د مخ په پراخیدو ګواښ په ډول برسېره شوي. د دغه شمېرې له جمعې څخه ۱۰۶ تنه وژل شوي او ۲۴۷ تنه ژوبل شوي ښځې دي چې د ۲۰۱۲ کال د ورته مودې په پرتله ۶۱ سلنه ښيي. ماشومان هم ۲۳۱ تنه وژل شوي او ۵۲۹ تنه ژوبل شوي چې ۳۰ سلنه زیاتوالې په ګوته کوي. طالبانو په خپل رسمې ویب سایټ کې دغه موندنې رد او یکطرفه ګڼلې او خپل پر موقف باندې بیا تاکید کړې چې د حکومت ملکي کارکوونکې او هغه کسان چې د حکومت څخه پلوی او ملاتړ کوي مشروع اهداف دي، چې د نړیوال بشرپالنې د قانون څخه پر له پسې او په نېغه سرغړونه ده.

۲۹. د جنګ د پاتې شونې چاودیدونکې توکې له امله پېښې، په هغو سیمو کې چې د نړیوالو ځواکونو له خوا خالي شوي، د مړینې او ژوبل کیدو لړ یې زیات کړي چې حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب شویدي. د راپور ورکولو په دوران کې ټولټال ۲۹ تنه وژل شوی او ۳۷ تنه نور ژوبل شوي چې زیاتره یې هغه ماشومان وو کوم چې د اوسپنو د ټټو په لټه کې وو. ملګري ملتونه د آیساف سره اړیکه نیولې او دوي ورته ویلې چې د خپلو همکارانو سره د طرزالعملونو پر بیا کتنو باندي کار کوي

۳۰. د مې د ۱ نېټې د جولای تر ۳۱ نېټې پورې د هیواد په کچه د ماشومان او وسله واله شخړه، د ارزونې او راپور ورکولو کارې ډله چې د ملګرو ملتونو تر مشرې لاندې کار کوي په ۵۸ ثبت شویو پېښو کې ټولټال د ماشومانو ۷۸ وژنې او ۱۹۵ ژوبل شوي قضیې ثبت او مستند کړیدي. کله چې د حکومت سره د عمر لاندې ماشومانو په کار ګمارلو د عمل پلان د پرمختګ په اړوند بحث وشو دوي د ملې اردو او د ملې پولیسو په لیکو کې پرمختګ په ګوته کړې او د لا ښه والې ډګرونه یې په نښه کړیدي. ملګري ملتونه تر دې مهاله پرمختګ ستایلې او اصرار کوي چې اړتیا ده په امنیتې ځواکونو کې د ماشومانو ګمارل او کار اخیستل، په ځانګړې ډول د ملې پولیسو او ځایې پولیسو په لیکو کې، د مخنیوي هڅې دوامدارې شي. د اګست په ۱۰ نېټه د ماشومانو او وسله واله جګړه کې زما د دفتر ځانګړې استازې د یونیسف سره په ګډه کابل ته سفر کړې تر څو د عمل پلان په پلې کولو کې، او د رعایت لپاره د یو لار نخښه د طرحې کولو په ګډون، د حکومت د نهادونو سره مرسته وکړي. د اګست په ۱۴ نېټه د بین الوزارتې د رهبرې کمېټه د ملګرو ملتونو سره ناسته تر سره کړې تر څو د لار نخښې په هکله بحث وکړی او تاکید وکړ چې دغه کار د عمل د پلان په پلې کولو او د هرې موسسې د لست څخه چې ماشومان په کار ګماري او کار ترې اخلې، په حذف ولو کې ستر اهمیت لري.

۳۱. یوناما د جګړې په اړوند د توقیف شویو کسانو سره د ناسم چلند د مخنیوی په اړه د ولسمشریزې ۱۲۹ ګڼه فرمان د پلېکیدلو د ارزونې په لړ کې په ۱۹ ولایتونو کې د ۵۵ توقیف ځاینو څخه لیدنه کړېده. د ۱۴۴ نارینو او ۲۶ تنو ماشومانو سره چې د جګړېزو اتهاماتو په تور نیول شوي دي، مصاحبې ترسره شوي. په عمومې ډول سره د ملې امنیت د ریاست په ۵ او د افغان ملې پولیسو په ۶ توقیف ځایونو کې د شکنجې او ناوړه چلند تایید شوي او باوري پېښې ترسره شوي. د جولای په ۱۰ نېټه یوناما د لومړي ځل لپاره د پروان ولایت د توقیف ځای څخه لیدنه وکړه چې د مارچ په میاشت کې د افغانستان حکومت ته انتقال شوي او اوس مهال پکې ۲۴۴۰ تنه په توقیف کې اوسېږي. د توقیف ځای رئیس وویل چې د انتقال څخه را پدېخوا او د دوسیو د بیا کتنې وروسته، ۲۳۳۰ توقیف شوي کسان لدې توقیفخانې څخه خوشې شویدي. ۷۰ تنه نور توقیف شوي کسان لا تر اوسه هم د امریکایې ځواکونو تر کنټرول لاندې دي.

۳۲. د جولاي په ۱۰ نېټه د افغانستان حکومت د ښځو پر علیه د تبعیض د ټولو ډولونو د محو کولو د کنوانسیون د پلې کولو په اړوند خپل د پرمختګ لومړنی راپور وړاندي کړ. د جولاې په ۲۸ نېټه د ښځو پر وړاندې د تبعیض د ټولو ډولونو د محوکوله کمېټه راپور ته ځواب ورکړي او په تېره لسيزه په دې ډګر کې د افغانستان پرمختګ تایید کړي دی. په عمده ملې چارو کې د پریکړې د تر سره کولو په پروسه کې د ښځو د دوامداري ټېټې کچې د ونډې شتون او د سولې د عالې شورا په ۷۰ کسزیز ترکیب کې د ښځېنه کارکوونکو یوازي ۹ تنه شتون هم ملاحظه شو.

۳۳. په یو ستونزمن پرمختګ کې چې موخه یې د جنډر د مساواتو په اړوند د اساسی قانون د ژمنو ډامن کوول وو، د جون د میاشتې په ۲۰ نېټه ولسې جرګه د جزايي اجراتو نوي قانون تایید کړ چې په هغه کې د متهم د خپلوانو څخه پوښتنې منعه کړاي شوي او تصریح کړي چې د قرباني شوي شخص د شکایت د بېرته اخیستلو په صورت کې، قضیه نه تړل کېږي. دغه مسله په نامتوازن ډول سره د کورني تاوتریخوالې پر قضیو باندي اغیزه کوي چېري چې شاهدان اکثراً د همغه کورنې غړې دي او پر قربانیانو باندي ستر فشار وجود لري چې خپل شکایت بېرته واخلي. قانون د بیاکتنې لپاره مشرانو جرګې ته استول شوي. د جولاي په ۲ نېټه د استیناف محکمه د ۱۰ کلونو د بند سزا رد کړ کوم چې په ۲۰۱۰ کال کې د یوې ځوانې ښځې د شدیدې شکنجې وروسته متهم د هغې پر دریو خپلوانو باندې مرګوني برید تر سره کړي وو، او قضیه د نړۍ پام ځانته راجلب کړ. د قضېي متهمانو ته د جمسې صدمې د واردولو په سزا د دریو میاشتو بند سزا وارول شو او څرنګه چې دوې تر یو کال زیات وخت په بند کې تېر کړي وو، سمدستې له بنده خوشې شول. د محکمې دغه پریکړه د تمیز لپاره سترې محکمې ته ځي. په ورته حال کې د یوناما څېړنې ښېي چې د اخلاقي جرمونو په تور د ښځو او نجونو عدلي تعقیب مخ په پورته روان دی پداسې حال کې چې ستره محکمه او د لوي څارنوالې دفتر درې دایرکتیفونه صادر کړي چې په هغه کې ویل شوي چې د کور څخه تېښته جرم نه دی. داسې ښکاري چې د دې عمل جرم ګڼل اوس هم نافذ دی او یا څارنوالان د کور څخه د تېښتې پر ځاي پر دوې باندې د زنا کولو د هڅې اتهام واردوي. په ۲۰۱۲ کال کې ټولټال ۴۵۰ تنې ښځې او نجونې بندیان شوي او د ۲۰۱۳ کال تر دې وخته پوري د ښځېنه بندیانو شمېر ۶۰۰ تنو ته رسیږي.

**۳۴.** په افغانستان کې یوناما او د ملګرو ملتونو سیستم په ګډه سره کار کړي چې د ښځو، سوله او امنیت په اړوند د امنیت شورا د پریکړې لیکونو په اړوند پوهاوي زیات کړي. مدنې ټولنې په مزار شریف او هرات کې یو یو او په ننګرهار، بامیان او کابل کې دوه ورکشاپونه تنظېم کړي وو.

### څلورم. د کابل د پروسې تعمیل او د پرمختیايي مرستو همغږۍ

۳۵. د جون د میاشتې پر ۲۹ نېټه، د دولت «قانون او عدل ټولو لپاره» پروګرام منظوري ورکړل شوه چې په دې ډول د دولت د ۲۲ پروګرامونو څخه ۲۱ پروګرامونه منظور شول. پر قضايي ارګانونو د یاغیانو پراخو بریدونو ته په کتو سره، دغه پروګرام ټینګار کوي چې د قاضیانو او څارنوالانو د امنیت لا پیاوړی کولو ته به اړتیا وي.

۳۶. د جولای د میاشتې پر ۳ نېټه په کابل کې د ټوکیو د دوه اړخیزې حساب ورکونې چوکاټ د لوړپوړو چارواکو غونډه د مالیې او بهرنیو چارو وزارتونو او زما د ځانګړې استازي په ریاست جوړه شوه. په یاده غونډه کې د افغان لوړپوړو چارواکو او د مدنې ټولنې استازو تر څنګ د ۴۰ هېوادونو او ۸ نړیوالو سازمانونو پلاوي ګډون درلود. په عمومې غونډه کې چې ټول په کې ګډون درلود، پر ټاکنو او د مرستو پر اغیزمنتوب خبرې اترې وشوې او کاري ډلې پر بشري حقونه، د قانون حاکمیت او حکومتولي، په عامه مالي چارو کې امانتداري، سیمه ایيزې حکومتولې او دوامداره او جامع ودې پر موضوعاتو تمرکز وکړ. په غونډه کې په ډاګه شوه چې حکومت او نړیواله ټولنه دواړه، د خپلو ژمنو په پلې کولو کې پرمختګ درلود خو د پاتې ستونزو لپاره لا زیاتو هڅو ته اړتیا ده. د مالیې وزارت ټینګار وکړ چې نړیواله ټولنه باید د ادارو د جوړولو او پر ګټورتوب د تمرکز له

لارې د افغانانو مالکیت او مشرې په پام کې ونیسي.

۳۷.	په غونډه کې پر اقتصادي وده، او د زیربناوو پر پرمختګ خبرې اترې وشوې او د عامې مالي مدیریت او سیمه ایزه همکارۍ په برخه کې پر لاسته راړونو رڼا واچول شوه. د تیرې لسیزې په پرتله د عوایدو په برخه کې وده د پام وړ لاسته راوړنه وبلل شوه او ور څخه هرکلی وشو. نړیوال بانک خپله اقتصادي وړاندوینه وړاندې کړه چې له مخه یې د ۲۰۱۲ – ۲۰۱۳ کال په ترڅ کې د افغانستان د ناخالصو کورنیو تولیداتو اصلي وده ۱۱،۸ سلنه اټکل شوې چې د۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ په پرتله ۷،۳ سلنه زیاته ده. خو تمه کیږي چې دغه وده د ۲۰۱۳ – ۲۰۱۴ په ترڅ کې به ورو شي او د راتلونکو پنځو کلونو کې د ودې کچه به هر کال اوسطا ۴،۸ سلنه وي، او مجموعي اقتصادي سناریو به له ننګونو ډکه وي. د صادراتو په پرتله واردات ډیر شوي چې سوداګرۍ کسر یې لا زیات کړی دی. د ۲۰۱۳ په لومړۍ ربع کې د عوایدو په رامنځ ته کولو کې۱۹،۶ سلنه کموالی راغلی خو د دولتي اقداماتو په مټ، په دوه یمه ربع کې دغه کچه ۳،۹ سلنې ته ورسیده. د عامه مالي چارو په مدیریت کې د دولت وړتیا کې پرمختګ لیدل شوی او د بودیجې تطبیق چې په ۲۰۱۰- ۲۰۱۱ کې ۳۹ سلنه وه، سږ کال ۵۰ سلنې ته رسیدلې خو د مرستندویو ادارو د مرستو د دوام لپاره لا زیات پرمختګ ته اړتیا ده.

۳۸.	د روان خوځښت د جاري ساتلو لپاره، د دولت او نړیوالې ټولنې تر منځ د لوړې کچې د خبرو اترو هغه میکانیزمونه چې د لوړپوړو چارواکو د غونډې له مخه جوړ شوي وو، به دوام ومومي. د استراتیژیک مرکزي کمیټه او د کاري کچې تخنیکي کمیټه، د وزیرانو او سفیرانو د کچې میاشتنۍ غونډې سره، چې په کې د مرستندویو ادارو پینځه ستري او درې دوراني غړي به ګډون ولري او د مرستندویو ادارو د مشرانو اوونیزې غونډې سره پراخه شوه. د پلانولو، د ملي لومړیتوبونو د پروګرام پلې کولو او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالو د ختمولو او بشري حقونو په برخو کې درې تخنیکي ډلې به د لا زیات پرمختګ ملاتړ وکړي. دولت، د مرستو د مدیریت د پالیسۍ په پلې کولو کې، لکه د بودیجې په حدود کې تمویل، د پرمختیایي  چوکاټ هوکړې، د تمویل هوکړې او ګډه شننه، څیړنه او ارزونه کې د مرستندویو ادارو شریکان ځان سره ښکیل کړی وو. دغه بحث هڅه کوي چې د مرستو د اغیزمنتوب د اجنډا په اړه ګډ تفاهم او د «بودیجې په دننه» او«بودیجې کې ځای پر ځاي کول» د تعریفونو په اړه توافق رامنځ ته کړي.

۳۹.	د جولای د میاشتې پر ۷ نېټه، د سیمه ییزه اورګانونو خپلواکه اداره او د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په ګډه د ولسوالیو د همغږۍ د شوراګانو د تاسیس تکلاره او د واک ساحه نهایي کړه. دا به د اساسي قانون سره سم د ولسوالیو د شوراګانو د ټاکنو تر مهال نافذ وي. ولایتي کمیټې  به د دولت د معیارونو پر بنسټ غړیتوب تعیین کړي. د منظورۍ په موخه، وړاندیز وزیرانو شورا ته استول شوی او یوناما د دولت او نړیوالې ټولنې تر منځ د تمویل د څرنګوالی په اړه د سلا مشورو لاره اواروي.

۴۰.	د جولای د میاشتې پر ۸ نېټه، ملګري ملتونه د افغانستان د رڼتیا نوښت په نامه پرواګرام پیل کړ تر څو د فساد په وړاندې د دولت د لومړیتوبونو په لاسته راړونه کې مرسته وکړي. د یاد پروګرام موخه د دولت د هراړخیزې تګلارې لپاره تحلیلي بنسټ مهیا کول ده چې په کې د اداري مراحلو آسانتیا، د سیستمونو د ناوړې اداري، ناوړه چلند او د فساد په اړه د راپوروکونې او اصلاح ډاډ ترلاسه کول شامل دي. د دولت د رڼتیا او ځواب ورکونې ملي لومړیتوب پروګرام یوازینی پروګرام دی چې تر اوسه نه دی منظور شوی. د دایمي کمیټې او د همغږۍ او څارنې ګډ بورډ د مرستندویو ادارو له څلورو سرو کرښو څخه په دوو کې پرمختګ نوټ کړی چې په دغو دوو کې اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون منظوري او په کابل ښاروالی کې د ودانیو د جوازونو د بهیر آسانول شامل دي په داسې حال کې چې د عامه چارواکو د شتمنیو تصدیق او د مالي پلټنې د رژیم د قانون منظوري لا پاته ده.

## پېنځم. بشردوستانه مرستې

۴۱. په پاکستان کې د ۱،۶ میلیون میشتو افغان کډوالو د اوسیدو قانوني موده د جون د میاشتې پر ۳۰ مه نېټه پای ته رسیده. د جون پر ۲۸مه نېټه، په کابل کې د افغانستان، پاکستان او ملګرو ملتونو تر منځ د سلامشورې غونډې وروسته، د پاکستان دولت، د افغان کډوالو راجسترکارډونه او د داوطلبانه بیرته ستنیدو درې اړخیزه موافقه د ۲۰۱۵ د دسمبر میاشتې تر ۳۱مې نېټې پورې وغځوله. په دې توګه وخت لاس ته راغی چې د افغان کډوالو لپاره د سیمه ایز حل د تګلارې له لارې داسې مساعد حالات رامنځ ته شي ترڅو بیرته راستنیدونکي افغان کډوال دوامداره عادي ژوند ته مخه کړي، داوطلبانه بیرته راستنیدنه زیاته شي، د ثانوي بې ځایه کیدو او کوربه هیواد ته د بیرته ستنیدو احتمال کم کړای شي. په یاده غونډه کې د پاکستان دولت، د حل لارې د تګلارې پر بنسټ د افغان کډوالو لپاره خپله نوې ملي پالیسي وړاندې کړه. د هوکړه شویو بنسټونو – لکه داوطلبانه بیرته راستنیدنه، په افغانستان کې د دوامداره ادغام او د کډوالو د کوربه ټولنو لپاره ملاتړ – په پلې کیدو سره، دغه نوې پالیسي د سیاسي او دیپلوماتیکو تګلارو، د تخنیکي روزنې او د معیشت لپاره د مهارتونو، د عامه اطلاعاتو رسنیز کمپاین او په ولایتي او مرکزي کچه د نویو ارګانونو د رامنځ ته کیدو پر اړتیا ټینګار کوي. دغې ټولې چارې د نړیوالې ټولنې دوامداره ملاتړ ته اړتیا لري. د جنوري د میاشت د لومړۍ نېټې څخه بیا د جون تر دېرشمې نېټې پورې له پاکستان او ایران ۲۶۰۰۰ کډوال په خپله خوښه افغانستان ته راستانه شوي دي چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۳۵ سلنه کموالی ښيي.

۴۲. په افغانستان کې د ځمکنیو نښتو د زیاتوالی له امله په کلیوالو سیمو، په ځانګړې توګه په بدخشان، فارياب او غور ولایتونو کې چیرې چې بشري مرستندویان لاسرسی نلري، د لنډې مودې بې ځایه کیدل ډیر زیات شوی دی. د جولای د میاشتې تر ۳۱مې نېټې په هیواد کې د شخړو له امله ۵۸۴۰۰۰ کسان (۹۱ زره کورنې) په دننه کې بې ځایه شوي دي - یوازې په ۲۰۱۳ کې ۶۴۰۰۰ کسان بې ځایه شوي دي.

۴۳. د اګست میاشتې تر ۱۵مې نیټې د پولیو یا د ماشومانو د فلج د ناروغۍ درې پېښې ثبت شوې دي چې د ۲۰۱۲ کال په همدې موده کې ۱۵ پېښې وې. درې سره پېښې په ختیځه سیمه کې رامنځ ته شوي چیرې چې د لاسرسي وضعیت ډیر خراب دی او دغه ناروغۍ د پاکستان په ګاونډې سرحدي ولسوالیو کې لا په دوران کې ده. سهیلي سیمه چې تر اوسه د یادې ناروغۍ د خپریدو په مخنیوي کې کوم بریالیتوب نه وو تر لاسه کړی، د ۲۰۱۲ د نومبر میاشتې را په دې خوا، هیڅ کومه پېښه نه ده ثبت کړې. په سهیل کې د لاسرسی د نه درلودلو له امله د واکسیناسیون له کمپاین څخه د ماشومانو پاته کیدل ۳۰ سلنه راټیټ شوی دی او ډیری خلګ اوس د ماشومانو د فلج د ناروغۍ په وړاندې د واکسیناسیون اهمیت ته غاړه ابښې ده. د کوچنې اختر په مناسبت ملا محمد عمر ته منسوب په یوه بیان کې چې د طالبانو پر ویبپاڼې خپور شوی وو، هغو موسسو ته چې په بې پلوه توګه د روغتیا، کډوالو او د خوراکي توکو د وېش په برخه کې فعالیت لري، اجازه ورکړه چې د طالبانو تر واک لاندې سیمو کې د شرایطو او ضوابطو په رعایت کولو سره خپل بې غرضه فعالیت ته دوام ورکړي.

۴۴. د راپوروکونې په موده کې د ماین پاکۍ په برخه کې چې د ملګرو ملتونو له خوا ملاتړ کیږي، په ۱۳۷ ټولنو کې د ماینونو ۳۰۶ ساحې پاکې شوې دي. د جولای د میاشتې پر ۳ نېټه، د بدخشان ولایت والی او ملګري ملتونه د یوې غونډې کوربه وو چیرې چې ۱۰ ولسوالۍ له ماینونو او له جګړې پاته شوني چاودیدونکي توکو څخه پاک اعلان شول. داسې اټکل کیږي چې په ۳۳ ولایتونو کې د ماینونو ۴۷۳۰ ساحې شتون لري چې ۱۶۵۵ ټولنې ورڅخه اغیزمنې دي. د هغه لس کلن پلان چې تر ۲۰۲۳ د مارچ تر میاشتې باید ټول خطرات له منځه یوورل شي، د لومړیو شپږو میاشتو کار د هدف سره سمون درلود. د هغه پلان لپاره چې ۶۱۸ میلیونه ډالره لګښت اټکل شوی، د جولای تر میاشتې پورې د ۶۶ میلیون ډالرو مرستې اعلان شوی دی.

۴۵. د اګست د میاشتې پر ۳ د هیواد د سهیل ختیځ مرکز سختو سیلاوونو سره مخ شو. د اګست د میاشتې تر ۱۵، ۶۵ کسان مړه، ۵۳ ټپي او یو شمیر نور لادرکه وو. ټولټال، له ۷۵۹ اغیزمنو کورنیو څخه ۵۵۰ کورني د کابل ولایت څخه وو. په ورته مهال کې تمه کیږي چې په دایکندي او غور ولایت کې د وچکالۍ له امله فصلونه زیانمن شي. په جولای میاشت کې د ملګرو ملتونو یوه ارزونه د خوراکي مرستو، تخمونو او د حیواناتو لپاره د واښه د برابرولو وړاندیز کړی وو. د لومړیو تخمینو پر بنسټ د اکتوبر له میاشتې څخه ۱۳۵ زره کسان به مرستو ته اړتیا ولري.

**شپږم. د مخدره توکو په وړاندې مبارزه**

۴۶. د جون د میاشتې پر ۲۶ نېټه، د نړۍ د مخدره توکو په اړه د ۲۰۱۳ کلنیز راپور خپور شو. په راپور کې په ډاګه شوې چې په ۲۰۱۲ کې د نړۍ په کچه د ناقانونه کوکنارو ۷۵ سلنه په افغانستان کې تولید کیږي. په افغانستان کې د کوکنارو د کرکیلې د ډیربښت له امله، په ۲۰۱۲ کې په نړیواله کچه د کوکنار تر کرکیلې لاندې ځمکه ۱۵ سلنه ډیره شوې وه. خو د نړۍ په کچه تولید ۳۰ سلنه کمه شوې وه چې په افغانستان کې د نامساعدو هواحالاتو له امله کوکنار ښه فصل نه وو ورکړی. د راپور د ارزونې له مخې، د افغانستان شاو خوا یو میلیون کسان په مخدره موادو روږدي دي چې د نړۍ په کچه دا تر ټولو زیات د روږدو کسانو کچه بلل کیږي او یوازې ۱۰ سلنه کسان تر درملنې لاندې دي.

۴۷. یو له وخته مخکې تحلیل تخمین کړي چې په ۲۰۱۳ کال کې د کوکنارو کښت په ۱۲ ولایتونو کې زیات شوي دی. د ولایت تر مشري لاندې د راپور ورکولو په دوره کې د کوکنارو د له منځه وړلو فعالیتونه د تولید کچه را ټیټه کړې. تخمین شوي چې د جولای تر ۱۳ نېټې پورې د کوکنارو کابو ۸۲۶۲ هکتاره ځمکه له منځه تللې. د دې هڅو پر مهال ۱۳۲ تنه خپل ژوند له لاسه وکړي او ۸۹ تنه نور ژوبل شویدي.

۴۸. د جون د میاشتې د ۳۰ نیټې څخه د جولای تر دریمې نیټې پورې په تهران کې د پیسو مینځلو، د ناقانونه مالي تمویلاتو او د پیسو شکمنو معاملاتو په وړاندې د مبارزې لپاره د روزنې یوه سیمه ایز پروګرام پیل شو چې پکښې دافغانستان، ایران، پاکستان، قرغزستان، قزاقستان او تاجکستان لوړپوړي کارپوهان ګډون درلود. د جولای د میاشتې پر ۳ نېټه، ایران، د پیسو مینځلو او د شکمنو مالي معاملاتو د مخنیوي په وړاندې د لا زیاتې همکارۍ لپاره د سیمه ایزې مالي استخباراتو د څانګې د اوومې غونډې کوربه وو. د دې غونډې موخه د یو داسې ګډ میکانیزم برابرول وو تر څو د شکمنو مالي معاملاتو او سرېیره د مخدره موادو له قاچاق څخه لاس ته راغلې ګټو په اړه د معلوماتو تبادله لا پیاوړې شي.

۴۹. د افغانستان او ګاونډیو هیوادونو لپاره د ملګرو ملتونو تر مشرۍ د سیمه ایز پروګرام هڅې دوام درلود او د جولای ۱نېټې څخه تر ۴ نیټې پورې په اسلام آباد کې د مخدره موادو د راټولول او د هغو د تحلیل او تجزیې د ظرفیتونو په اړه دوهم سیمه ایز ورکشاپ تر سره شو. د یاد ورکشاپ ګډونوال چې د سیمه ایز پروګرام ۸ غړي هیوادونو، او سربېره، له سریلانکا، مالدیف، نیپال او بنګلا دیش څخه راټول شوي وو، د مخدره موادو د کارونې او په دې اړه خپلې نظرپوښتنې او تجربې شریکې کړې. د سیمه ایز پروګرام د تمایلاتو او اغیزو تر نامه لاندې د یاد پروګرام د څانګرې ډلې لومړۍ غونډه د یاد ورکشاپ په پای کې تر سره شوه. په دغه غونډه کې په ډاګه شوه چې په سیمه کې د مخدره موادو دکارونې په اړوند کتلوري حساسیتونه او تنګ د مرکو له لارې نظرپوښتنو په لار ترټولو ستره ننګونه ده. د اګست د میاشتې پر ۲۷ او ۲۸ نېټه، د مخدره موادو د مخکینی کنټرول د استخباراتو سیمه ایزې کاري ډلې۴ غونډه په تهران کې وشوه چې په کې د مخدره موادو د مخکینی کنټرول او د نشه يي توکو د ممانعت په څانګه کې د لویدیځې او مرکزي آسیا قانون پلې کوونکي افسران سره راټول شوي وو. د غونډې ګډونوال د مخدره موادو د مخکینی کنټرول او په دې وروستیو کې د نیول شویو ممنوعه توکو د وضعیت په اړه معلومات سره شریک کړل.

۵۰. د مخدره موادو په وړاندې د مبارزې د لا پیاوړې کولو په موخه د پاکستان، ایران او افغانستان د درې اړخیز نوښت لاندې یو لړ غونډې د اګست ۱۹ او ۲۱ نیټې تر منځ په کابل کې تر سره شوې. په دغو غونډو کې د ګډو عملیاتو، د سرحدي اړیکو دفترونو، مخابراتو او د معلوماتو پر تبادلې خبرې اترې وشوې.

**اووم. د ماموریت ملاتړ**

۵۱. په ۲۰۱۳ کال کې د یوناما په تمویلاتو کې د ۱۸،۷ سلنې کمښت راویستلو وروسته، په ۲۰۱۴ کې له لویې کچې تشکیلاتي بدلون څخه باید ډډه وشي ترڅو په ساحه کې د یوناما حضور او فعالیت اغیزمن نشي. له یو کس څخه څو کار اخیستل، د بستونو د دندو د بیاکتنې او له ټیکې کار اخیستلو باندې تمرکز سره یوناما پراخې ورتیاوې ترلاسه کړې دي. د یوناما د سیمه اییزې الوتکې فعالیت، چې د کابل او دوبۍ تر منځ منظمې الوتنې درلودې، بند کړای شو.

۵۲. په داسې حال کې چې د انتقال بهیر پر مخ روان دی او بودیجوي خنډونو او امنیتي ستونزو ته په پاملرنه، یوناما په پام کې لري چې په اکتوبر کې په خوست ولایت کې خپل دفتر بند کړي. داسې هم وړاندیز شته چې د ۲۰۱۴ په پیل کې، یوناما په بامیان کې چې تر ډېره حده یوه امن ولایت دی، د خپل دفتر تشکیلاتو ته بیا کتنه وکړي او له دغه دفتر د څو دفتریزې څانګې په توګه کار واخیستل شي او یوازې پر پرمختیایي چارو ډېر تمرکز وکړي. په داسې حال کې چې د بودیجې منظوري نهایي شوې نه ده، د ۲۰۱۴ د جنوري تر میاشتې د یوناما دفترونه چې په ۲۰۱۲ کې ۲۳ وو، ۱۳ته کم کړای شي. په کندز ولایت کې د دفتر لپاره هیڅ کومه ودانۍ نه دی موندل شوی، چې باید منتقل او یا د امنیتي ستونزو له کبله بند شي. یوناما د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام سره په مزار شریف، کندهار او ګردیز کې د تفاهم یولړ یادداښتونه ترتیب کړي دي تر څو لګښتونه سره شریکه کړي، او د امنیت، فرعي کارکوونکو او د کرایې له پلوه اضافي عملیاتي لګښتونه کم کړي.

۵۳. د کویت د ګډ ملاتړ دفتر یوناما او په عراق کې د ملګرو ملتونو د مرستې ماموریت لپاره خپل ملاتړ یوځای کړ. د جولای په میاشتې کې، د ملګرو ملتونو د سرمنشي دوه یمه مرستیاله، آغلې امیره حق د یوناما له دفتر څخه کتنه وکړه او د دې شان د بین الماموریتي همکاریو نوښتونو کې د ساحې د ملاتړ د نړیوالې تګلارې تطبیق مشاهده کړه. دغه دفتر د تشکیلاتو بیا کتنه پیل کړې تر څو کویت دفتر ته د بشري سرچینو او مالي چارو د انتقال سره اړونده ورتیاوې تحلیل کړي.

**اتم. مشاهدات**

۵۴. کابل څخه زما د مرستیال لیدنه د افغان چارواکو او افغان ولس سره د ملګروملتونو د مرستې اوږدمهاله ژمنه ښيي تر څو دوی وکولای شي د سولې، انصاف او پرمختیا لپاره خپلې هیلې د ربښتیا په بڼه وګوري. کومه موضوع چې زما مرستیال ډېر زیات ورسره مخ وو هغه د تیرې لسیزې د لاسته راوړنو ساتنه وه. د راتلونکو ټاکنو اهمیت او د پخلاینې اړتیا تر څو د لیرد بریالیتوب او د هېواد د اوږدې مودې لرلید تضمین شي، خورا واضح وو. نوموړي دا موضوع مشاهده کړ چې خلګ په پراخه پیمانه غواړي چې ملګري ملتونه د افغانانو په مشرۍ له دغو سیاسي بهیرونو ملاتړ وکړي. د نړیوالو مرستو د اوږدې مودې د اټکل کیدنې پر اړتیا، چې د شیکاګو او توکیو کنفرانسونو کې پرې دوه اړخیزه ژمنه شوې وه، هم ټینګار وشو.

۵۵. د یو ټېنګ لیږد د بهیرونو لپاره اغیزمنې او استازې ادارې، بنسټیز رول لوبوي. د ۲۰۱۴ ولسمشریزې ټاکنې چې په کوم هر اړخیزه بڼې سره ترسره کیږي، به د کورنې مشروعیت تر ټولو ډاډمن بنسټ وي. دغې ټاکنې به په لومړي ځل په افغانستان کې په سوله اییزه او دموکراتیکه بڼه د واک د لیږد امتیاز لروونکې وي او د روانو نړیوالو ژمنو لپاره به مرکزي رول

ولوبوي. زه د ټاکنيزو قوانينو د جوړيدو او تصويب کيدو هرکلی کوم. داسې يو سم قانوني چوکاټ چې د ټاکنيزو خپلواک کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون خپلواکي تاييد کړي، د يوه پياوړي ټاکنيز جوړښت او دوه اړخيزه هوکړه شوي اصولونو بنسټ څرګندوي چې په همدې ذريعه راتلونکې ټاکنې تر سره کيدای شي. نوي ټاکل شوي کمشنران د خپل هيواد د راتلونکې لپاره ډير زيات مسووليت په غاړه لري. د تيرو ټاکنو په پرتله، عملياتي او امنيتي پلان جوړول ډير پرمخ تللی دی او زه د افغان مشرانو چې په خپل دريځ کې ډير واضح دي او څرګند کړی چې افغانستان، افغان ولس، بنسټونه، سياسي او ټولنيز ځواکونه په ربښتيا د ۲۰۱۴- ۲۰۱۵ د ټاکنيز بهير لپاره د مسووليت په غاړه اخيستلو ته چمتو دي. اوس مهال، د تمويل د څرنګوالی په اړه نهايي هوکړې ته اړتيا ده تر څو د سرچينو خوځښت بې له ځنډه مخ ته يوړل شي.

۵۶. ما په دوحه کې د طالبانو د دفتر د پرانيستنې د څرنګوالی په اړه د افغان چارواکو او افغان ټولنې او سربيره د نړيوالې ټولنې مشروع اندېښنې په پام کې نيولې. هر راز خبرې اترې بايد مشموله وي او د باورجوړونې مخکينې اقدامات په پام کې ولري چې موخه يې د تاوتريخوالو د کچې کمول، په ځانګړې توګه د ټاکنو پر مهال، او د هغو افغان ملکي وګړو ډير زيات خونديتوب او امنيت دی چې له اوږدې مودې د شخړو له اغيزو څخه زيانمن شوي دي. راتلونکې ټاکنې او د افغان برخوالو ترمنځ د ملي اجماع د رامنځ ته کولو لپاره رواني خبرې اترې به احتمالا د سولې د بهير او د تيرو ۱۲ کلونو پر لاسته راوړنو د معاملې پرته د پخلاينې په ترلاسه کولو کې د کانديدانو دريځ څرګند کړي. ملګري ملتونه د افغانانو په مشرۍ او مالکيت د سولې د بهير ملاتړ کوي او زه د دغه بهير د ډير ژر پيليدو لپاره ټول کوښښونه هڅوم.

۵۷. د لوړپوړو چارواکو غونډه مهم فرصت وو چې د ټوکيو د دوه اړخيزې ځواب ورکونې ترچوکاټ لاندې د پرمختګ بياکتنه وشي او د ژمنو د عملي کولو لپاره د هڅو د ګړندي کولو د فعالې او لوړپوړې کچې ښکيلتيا د اړتيا تاييد وشي. د واک د ليږد يو مهم عنصر دا دی چې د نړيوالو مرستو د ژمنو تضمين په دې ډول وشي چې افغان بنسټونه او بوديجوي سيستمونه په کې ښکيل وي او د هغوی د ملاتړ لامل وګرځي. په همدې ډول د افغان حکومتولې او د مالي مديريت سيستمونو کې پر ورتياوو باور ډير مهم دی. په دې اړه د خورا زيات کورنيوعوايدو رامنځ ته کول او د پيسو د مينځلو په وړاندې د مبارزې د قانون تصويب د اهميت وړ دی. په داسې حال کې چې د افغانستان د واک د ليږد بهير پر مخ ځي، مرستندويان به د ښځو د حقونو په ګډون د بشري حقونو په برخه کې پر دوامداره پرمختګ، افغان ولس لپاره د پرمختيايي پروژو د ښو پايلو تضمين او سربيره د مرستندويانو د کورنيو عناصرو د ژمنو ساتلو په برخه کې ټينګار وکړي. د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالی د ختمولو د قانون د تصويب په برخه کې زيات پرمختګ، او همدا راز د نړيوال اعتبار په راتلونکې بهير کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د اولې درجې د ساتلو هڅې، به يوه واضح لومړيتوب وي.

۵۸. په روانه ربع کې د امنيتي ليږد د بهير د پنځم او وروستی پړاو پيل چې له امله يې افغان امنيتي ځواکونه به په ټول هيواد کې د امنيتي چارو مشري په غاړه ولري، د آيساف د هغې ژمنې تاييد دی چې دوی راتلونکې کال خپل ټول عمليات پای ته ورسوي. په داسې حال کې چې تشې او نيمګړتياوې په روښانه توګه څرګنديږي، افغان امنيتي ځواکونو د خپلو مسوليتونو په غاړه اخيستلو کې خورا زيات وړتيا او ټينګ هوډ ښودلی. د شمالي سيمو سربيره د هيواد په يو شمير کليوالو سيمو کې امنيتي ستونزې لا هم شتون لري. د ملکي وګړو په تلفاتو کې زياتوالی چې تر ۲۰۰۱ وروسته، د وژل شويو او ژوبل شويو شمير تر ټولو زيات ثبت شوی، د اندېښنې وړ دی. ياغيانو د ملکي دولتي کارکوونکو هدف ګرځونې ته دوام ورکړی. زه پر ټولو ښکيلو غاړو غږ کوم چې ملکي وګړو ته احترام قايل شي او د نړيوالو مکلفيتونه درناوی وکړي.

۵۹. ګډوډې او شخړې يوازې طالبانو، پر القاعدې اړوندو نړيوالو ترهګرو ډلو او دولت مخالف نورو وسله والو ډلو پورې منسوب نه دی. د بې ثباتی او نه اټکليدونکې داسې وخت کې، د منظم جرمونه ډلې چې د مخدره موادو په قاچاق بوخت دي او ناقانونه وسله والې ډلې په دې هڅه کې دي چې خپل نفوذ وساتي. له همدې امله، د ولسمشريزو ټاکنو او د افغانستان

لپاره د نړیوال اوږدمهاله ملاتړ د جاري ساتلو او اټکل کیدو له لارې د سیاسي واک بریالي لیږد ډیر اهمیت لري تر څو دا اندېښنه پیدا نشي چې په هیواد کې د امنیت او حکومتولي خلا شتون لري.

۶۰. زه په اسلام آباد کې د ولسمشر کرزي او د پاکستان لومړي وزیر نواز شریف له ګډورو خبرو اترو څخه ډیر خوشحال شوم. د یوې ورځې لپاره د لیدنې غځول د دواړو خواوو تر منځ د ګډو ګټو پر چارو د کارکولو چمتووالی څرګند کړ. دا پاکستان ته زما د سفر د پایلو سره مطابقت لري په داسې حال کې چې نوي لومړي وزیر د دواړو ګاونډیو هیوادونو تر منځ پر ښو اړیکو لرلو ټینګار کوي. په داسې حال کې چې هیواد ته د بیرته راستنیدونکو د دوامدار حل په اړه هڅې روانې دي، په دې وروستیو کې په پاکستان کې د افغان کډوالو د اوسیدلو د مودې د غځولو ستاینه کیږي. د سیمې هیوادونو رغنده ښکیلتیا او د دوی تر منځ همکاري د اوږد مهال ثبات د راویستلو او ملاتړ کولو لپاره ډیر د اهمیت وړ دی. د استانبول بهیر، چې افغانستان په کې کلیدي رول لوبوي، د دې یو مهم عنصر دی. د باور جوړولو د اقداماتو په اړه موږ ټول مهم هیوادونه هڅوو تر څو د ۲۰۱۳ تر پایه عملي فعالیتونه پیل شي. زه د چین د هغه وړاندیز هرکلی کوم چې غواړي په راتلونکې دوبۍ د استانبول بهیر د وزیرانو د غونډې کوربتوب په غاړه واخلي او دا د سیمه ایز حل لارې د اهمیت اعتراف دی.

۶۱. د خپلواک افغانستان سره د ملګرو ملتونو همغږي به د افغان لومړیتوبونو او اړتیاوو په ملاتړ څرګند شي. په داسې حال کې چې افغان بنسټونه لا پیاوړې مشري په غاړه اخلي، زه په دې نظر یم چې د ملګرو ملتونو رول د خدماتو څخه د افغانانو د وړتیاوو او انعطاف او د افغانانو په مشري د بهیرونو پر ملاتړ مرکوز شي. زه د افغانستان او ملګرو ملتونو د موسسو، وجوه او پروګرامونو تر منځ د لاپیاوړې همغږۍ، چې د «واحد ملګري ملتونه» اجنډا پر مخ وړي، هرکلی کوم. دا به زموږ فعالیتونه د ملي لومړیتوبونو سره، چې په کې د پروګرامونو او مالي معاملاتو د لګښتونو د کمولو د هڅو له لارې، ښه تنظیم کړي، او سربیره پر دې د "د ملکي خدمت حمایت" ته هم رسیدګي وشي او په دې ډول کار وکړو ترڅو د خدماتو په رسولو او نړیوال وجوه په ارایه کولو کې، ملګري ملتونه د حکومت د یو سِیال په ډول څرګند نشي.

۶۲. د ۲۰۱۳ د ګډ بشردوستانه عمل پلان اوس ۶۳ سلنه تمویل شوی چې دا د تیرو کلونو په پرتله، کله چې د بشري تمویل مخ پر کمیدو وو، یو مثبت بدلون دی. د ګډ بشردوستانه صندوق د جوړولو لپاره د بشري همغږ کوونکې د وړاندیزونو هرکلی کوم چې د نوي سرچینو د رامنځته کولو سربیره سرچینې هغو لړ تمویل شویو بشردوستانه بنسټونو او افغان انجوګانو چې په هیواد کې د غبرګون د اساسي پایې په ډول خدمت کوي، مرکوز کړای شي. د شخړو له امله پراخ بې ځایه کیدنه، په ځانګړې توګه په لرې پراته سیمو کې، د اندېښنې وړ دی. باید د داسې میکانیزمونو د جوړولو هڅه وشي تر څو بې ځایه شوي کسان خوندي ځایونه او بشري مرستو ته لاسرسي ومومي. زه پر ټولو غاړو غږ کوم چې د روانو شخړو په سیمو کې د لا زیات لاسرسي لپاره هڅه وکړي.

۶۳. زه غواړم چې د یوناما له ټولو ملکي او بهرني کارکوونکو، په ځانګړې توګه خپل د ځانګړې استازی، ښاغلي یان کوبیش څخه مننه وکړم چې له ننګونو ډک حالاتو کې د افغانستان د خلګو د ملاتړ په برخه کې زموږ د ژمنو د عملي کولو لپاره خپل ایثار او سرښندنې ته دوام ورکوي.